كله مو چې وليده (مياشت)، نو روژه شئ، او كله مو چې وليده نو بوزه شئ، او كه چېرته درباندې وريځ شوه نو حساب ورته ونيسئ

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دى وايي چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې اوريدلي دي چې فرمايل يې: "كله مو چې وليده (مياشت)، نو روژه شئ، او كله مو چې وليده نو بوزه شئ، او كه چېرته درباندې وريځ شوه نو حساب ورته ونيسئ".

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د رمضان د مياشتې د داخلېدو او پاى ته رسېدو د علامې په اړه وضاحت ورکړى او فرمايلي يې دي: كله مو چې د رمضان مياشت وليده نو روژه شئ، او كه چېرته ستاسو او د مياشتې تر منځ وريځ راغله او درڅخه پټه شوه نو د شعبان د مياشتې ديرش ورځې وشمېرئ، او كله مو چې د شوال مياشت وليده نو بوزه شئ، او كه چېرته ستاسو او د مياشتې تر منځ وريځ راغله نو د رمضان د مياشتې دېرش ورځې وشمېرئ.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4549